نویسنده محمداعظم سیستانی تاریخ 26/05/2008

د ښاغلی حبیب پیمان د لیکنی پیغام تائیدوم

نن ما د افغان –جرمن آن لاین په پورتال کی دوه په زړه پوری لیکنې ولوستې چی یوه ئی د محترم سدید په قلم کی لیکل شوی وه او بله یی د محترم حبیب پیمان لیکنه وه. دا دواړه لیکنې دپراخ نظر خاوندانو لخوا لیکل شوی دی. خو دلته زما د دی یادونی څخه منظور دپیمان صاحب د لیکنې دپیغام اومحتوا تائید دی .ځکه د ده په مقاله کی ما داسی یوه ټکی پیدا نکړ چی دی پکی دکوم خاص شخص یا دکومې خاص ویب پاڼی پلوی کړی وی.خو یو شی د ورایه څخه معلومیده،چی ده پر ټولو هغو لیکوالو او رسنیوباندی انتقاد لری چی کله ناکله را پارونکی اولمسونکی مسایلو ته لمن وهی او په اصطلاح « تروخشک را به یک چشم می بینند وبه چوب می بندند». تاسی و ګوری چی محترم پیمان دمحترم معروفی او محترم پنجشیری پر دی وروستنی لیکنو باندی څرنګه ګوته اږدی او لیکی:

« یوه خبره چې دیادولو وړ بریښی هغه دا چې ددې دواړو لیکوالود لیکنو زیاتره برخه راپارونکو اولمسونکو مسالو ته ځانګړې شویده چې منطقا ددوې دلیکنو سره زیاتره بې پرې اووطن دوست لوستونکی حساسیتونه لری او اوسنې جنجال او ددوی په پټه په مستعارو او نامعلومو نومونو ، اویا ددوی په نامه په نوموړو پاڼو کې نشرشوی مطلبونه یې منطقی پایله ده څرنګه چې وایی «څه چې کرې هغه به ریبې» دښاغلو پنجشیری اومعروفی په هکله پوره صدق هم کوی. هغه شی چې زه وهڅولم دالیکنه په ځینوپاڼوکې خپره کړم دښاغلی معروفی په نامه په آریایی پاڼه کې دیوې لیکنې خپرول وو چې محتوی یې دښاغلی پنجشیرې څخه پر بخښنې څرخیږی . وروسته ښاغلی معروفي دتوضیحی اواحتجاجیه لیکنې پواسطه دا موضوع رد او آریایی پاڼې ته یې دنشر لپاره ورواستوله خو هغوی نه یوازې هغه خپره نکړه بلکه هغه لیکنه چې دښاغلی معروفی په نامه کوم مجهول الهویه لیکوال آریایی ته استولې اوښاغلی معروفي دا ګومان هم کوی چې ممکن لیکنه دښاغلی پنجشیری وی، لیرې نکړله، چې دآریایی دپاڼې دمسؤل اویا مسؤلینو دا ډول چلند نه داچې دژورنالستیکې نورمونواوقواعدو سره سر نه خوری ، دمنلوړاو معقول کارنه دی بلکه دتاسف وړچلندپرته بل څه ورته ویلای نشو. ضمناً دا هم دیادولو وړده چې دافغان – جرمن په پاڼه کې هم ورته لیکنه شته چې دښاغلی پنجشیرې له نامه څخه دنظریاتوپه برخه کې خپره شوې چې ښاغلی پنجشیری پخپله یوه لیکنه کې هغه خپله لیکنه نه ګڼی اولاتراوسه دافغان – جرمن په پاڼه کې موجوده ده.
- دا خبره هم دیادولو وړده چې دښاغلی معروفي ځینې لیکنې اوپه احتجاجیه ډوله لیکنه کې داسې نمونې ډیرې دی چې په هغې کې دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوندپخوانیوټولو غړو ته سپکاوی شوې دی... ده مکررآ پخپلو مقالواولیکنوکې دا،خ ،د ، ګ ټول غړی دمشر نه نیولې ترکشره پورې ،دوزیر نه نیولې تر کاتبه ،درییس نه نیولې ترکارګره،دجنرال نه نیولې تر سرتیرې ،دښځې نه نیولې ترنارینه دعمومی منشی څخه نیولې بیا تر عادې غړې پورې ، خلاصتا د(الف څخه تر ی) پورې ټول خاینین ، جنایت کاران ،قاتلین اوداسې نورنومولی دی چې نه منطق داسې حکم کوی اونه عملآ داسې کیدای شی چې دیوه دوه سوه زریز سازمان ټول غړی بیله استثنی قاتلین اوجنایتکاران وی. »

زما په نظر، هغه لیکنه چی دښاغلی اکادمیسین پنجشیری په نامه ، افغان- جرمن آن لاین ته را رسیدلی او نشر شویده، هغه د پنجشیری لیکنه نده او د یومجهول الهویه سړی له خوا افغان- جرمن ته رالیږل شوی دی، تر څو پنجشیری دخلکو وخولی ته واچوی او ورڅخه خپل غچ واخلي. او همدا رنګه هغه لیکنه چی دبخښنی په ډول په اریائی کی د ښاغلی معروفی په پټه نشرته ور استول شوی ده، هم یوه مجعوله لیکنه ده چی دهمغه مجهول الهویت سړی له خوا لیکل شوې ده او هدف یی دا و چی د ښاغلی معروفی څخه غچ واخلی. دغه مجهول الهویت سړی په ډیر مهارت سره په خپله لیکنه کی تر یوزیات حد پوری د ښاغلی معروفی سبک پیروی کړی او هم دپنجشیری ځینی کلمات اولغتونه یی پخپله لیکنه کی ځای کړي دی.اوښائی بیاهم دغسی مجهولی لیکنی تکرارکړی او نورو ډله ییزې رسنیو ته ورولیږی، خو د وییب پاڼو مسئولینو ته په کار ده چی ، کله چی یوه مشکوکه لیکنه ورته رارسیږی ، یو واری دلیکوال سره تلیفونی تماس ونیسی تر څو په اینده کې دخپلی رسنی اعتبار ته صدمه ونرسوی. او خلکو ته هم غلط معلومات وړاندی نکړی.

دا هم د ویلو وړ ده چی یوقوم ، یا یوه سیاسی ډله یا یوحزب په مجموعی ډول (دالفه تری پوری)، هیڅکله خاین کیدلای نشی. او که څوک ورته خاین یا وطن پلورنکی خطاب و کړی ، دا به څومره بی منطقه خبره وی.خو د دی احتمال همیشه شته چی په یو قوم، یا په یوه سیاسی ډله یا په یوه اتنیکی ټولنه کی ، ضعیف النفس، خودخواه،

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اپورتونیست،فرصت طلبه،خاین او وطن پلورنکی عناصر موجود وی. مگرپه دی حالت کی هم مونږ ویلای نشو چی دا حزب یا دا سیاسی ډله یا دا ټولنه په مجموع کی خاینان دی. د دی مثال به داوی چی موږ ووایو فلانکی قوم، خاین قوم دی، دا ډول خبری بلکل بی ځایه او بی منطقه اوغلطي خبری دی چی لازمه نده په داسی افراطی حکمونوکی یو قوم یا یوه سیاسی ډله تخریش او تحریک کړو .نو لیکوال ته پکارده چی پخپلو لیکنو کی دقت وکړی چی لمړی خو د واقعیت څخه لیری لیکنی ونکړی او که هدف ئی دخاینانو او د وطن دشمنانو اوجنایتکارانو ځپل وی، خپله خبره په داسی الفاظواو کلماتو بیان کړی چی بیگناه ، صادق اوپروطن مین خلک په کښی تخریب او تخریش نشی، کنه نوخلک پرداسی افراطی لیکنو بانـدی خپل باور له لاسه ورکوی.

په پای کی محترم پیمان یوه معقوله غوښتنه دټولوافغانی رسنیو او لیکوالو څخه لری او لیکی:«دټولو رسنیو دسمبالونکو څخه هیله ده چي هغه لیکنې چې راپارونکي اولمسونکي وی ، ملي یوالي ته زیان ورسوی ، دقلم عفت پکي له پامه غورځول شوی وی اوځانګړو څیرو ، سیاستوالو اوقومونوته پکي سپکاوی شوی وی دخپرولو څخه ډډه وکړی ۰اولیکوال هم دلیکوالی اصول اوقواعدمراعات کړی اوپردي وپوهیږی چي په لیکنوکي دبازار اوکوڅي خبري لیکوالی ،حکمت اوپوهه نه ده ،لیکوالی ښکنځلي ،سپکي سپوري ، تورونه او پیغورونه نه دی ، لیکوال باید الهام ورکونکی اولوري ورکونکی وی ،لیکوال حیاتی مسالي وڅیړی ،دټولني ستونزي اوکړاوونه بیان کړی دهغي دحل لاري چاري په ګوته کړی نه داچي راپارونکی ، لمسونکی اوبي مفهومه اوغیرضروری موضوعات دخپلي لیکني هدف وګرزوی ، لیکوال ته نه ښایی چي دکرکي ،نفرت اوغچ اخیستلو پیغام ورکونکی وی. اوبالا خره لیکوال اوډله ییزي رسنی ته نه ښایی چي دتوطیه کونکواوفتنه اچونکو په شان چلندو کړی »

دښاغلی پیمان کور ودان وی چی د داسی لیکنی په وسیله د خلکو ذهنیت روشانه کوی.
پای

افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de